مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۶/۰۸/۲۶

# هویت، فرهنګ او سیاست

«زه څه یم؟» دا په پیل کې یوه فیلوسوفیکه پوښتنه ده، چې ښایي هر انسان یې د ځانپېژندنې د شعوري فعالیت په پیل کې له ځانه وپوښتي. د دې پوښتنې بله برخه دا ده چې «زه څوک یم؟» او که دا پوښتنه تولیزه شي، نو ښایي یوشمېر وګړي وپوښتي چې «موږ څوک یو؟» وګړنی او تولیز هویت له همدغو پوښتنو راولاړیږي چې له ځانه سره د تولنیز عمل غبرګون هم لري. هویت څنګه د سیاستونو او ان ویرې په ابزارو بدلیږي؟ د هویت بحران او له بحرانه زیږېدلي هویتونه څه دي؟

مونتسکیو په روح القوانین کې لیکي:

«استبدادي واکمني پر ډار ولاړه ده، ناپوهو او پرېوتلیو ولسونو ته ډېر قوانین پهکار نهدي، هلته باید هرڅه پر دوه یا درې زړو فکرونو ولاړ وي، هلته نویو فکرونو ته اړتیا نهشته. کله چې تاسو یو څاروی روزئ نو دې ته مو پام وي، چې بل څوک دغه څاروی له تاسو نه ورخپل نهکړي، څاروی باید خپل خاوند وپیژني او چلند یې بدل نهشي. بس دوه درې حرکتونه د هغه په مغزو کې دا هرڅه کېنوي او بس خلاص.»

مونتسکیو ښایي یو له هغو څو تولنپوهانو وي، چې په سیاست کې د ډار او ډاراچونې د اغېزو په اړه ډېربحث کوي. د سیاستوالو د یوې کړۍ له خوا څنګه د ډار سیاست بنه مومي؟ او د دې لپاره چې خلک تابع کړي، هغوی ډاروي. ډار د دې لپاره نه، چې څوک قوانین مات نهکړي او یا تولنیز نظم ګډوډ نهشيکړای. دا ښایي له قدرت څخه د استفادې مشروع لاره وګڼل شي، چې حاکمیت یا یو سیاسي بنسټ خلک له قانونماتوونې او د تولنیز نظم له ګډوډۍ څخه وډار کړي. پولیس، محاکم، جزا او زندان د همداسې قانوني ډار وسایل دي، مګر دلته د بحث وړ موضوع له ډار څخه سیاسي استفاده ده. یو شخص، ډله، یا حاکمیت خلک د دې لپاره ډاروي چې د دوی واک ونهننګوي او دوی د همدې ډاراچونې په مرسته خپلې ظالمانه واکمنۍ ته دوام ورکړي. استبداد دقیقاً همدلته رامنځته کیږي. د ډار سرچینې څه دي؟ او څنګه د واک، ګټې او سیاستلوبو لپاره کارول کیږي؟ د ډار سرچینې کېدلای شي عقیده، هویت، ګټې، ملکیتونه، طبقاتي ویشونه، حیثیتي حریم او نورڅه وي. ډېرځله په تاریخ کې هویتي ارزښتونه په سیاستونو کې د وېرې په اسبابو بدلیږي. ځینې سیاستوال یا واکمن د خلکو یوه برخه په دې نامه د ځان تابع کوي، چې ګواکې د هغوی د هویتي ارزښتونو دفاع کوي او که دی نه وي، نو خلک به خپل هویت وبایلي. دا هویت کېدای شي قومي، ژبنی، سیمهییز، مذهبي یا ان طبقاتي، ګوندي او صنفي وي.

په دې روستیو کې په همدې اړه، د ښاغلي ډاکتر جاوید قایم په قلم په پښتو ژبه، د یوې مقالې په یوه برخه کې لولو:

«د هویت په نامه د وېروني د سیاست په یوه پړاو کې خلکو ته دا احساس ورکول کیږي چې د دوی هویت تر اوږدې مودې راهیسې د ظلم، تبعیض او یا توطئې قرباني دی. که څه هم ځینې تاریخي شکایتونه ممکن ریښتیا وي، خو سیاستوال ډېرې وخت دغه احساس تر واقعي اندازې لوی او دوامداره انځوروي، ځکه د قرباني احساس د خلکو د بسیج لپاره قوي عاطفي سرچینه ده.»

د هویتونو جنګول، یا له هویتونو څخه د سیاسي ابزارو په توګه ناوړه استفاده څومره ګواښمنه ده؟ دا مهمه پوښتنه ده. د دې برخې څېړونکي په دې باور دي، چې که یو شخص، ډله، ګوند او ان حاکمیت وغواړي د خپلو ګټو او قدرت ساتلو لپاره د خلکو ترمنځ پرهویتي مسایلو شخړو اوجګړو ته لمن ووهي، داسې سیاستونه دملتونو د یووالي او مختګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بنسټونه لړزولی او هېوادونه د ویش له ګواښ سره مخامخ کولای شي، بدي یې دا ده چې هېڅ هویتي مجموعه به خپلواکه او هوسا نه‌شي، بلکې یوازې د داسې سیاستلوبو مسئولین به له خړو اوبو څخه ماهیان نیسي.

د هویتي ارزښتونو د پاللو لپاره فرهنګي هڅې ګټورې دي، د قومونو، ملتونو یا نورو هویتي مجموعو د هویت ځلولو لپاره نورې لارې شته، چې ښایي د دغو مجموعو د ویښتیا او روښانتیا لامل شي او خلک د خپل سیاسي برخلیک د ټاکنې توانمندي زیاته کړای شي، نه دا چې د هغوی پر هویتي ارزښتونو سیاسي تجارت وشي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ